عبدالباري جهاني (ترجمه) ۲۰۱۹/۱/۰٦

# د ډاکټر عبدالغني اثر

دوهمه برخه

د خاوري د حدودو په برخه کي ماته امر سوی دی چي تاسي ته ووايم چي د کندهار ټول ولايت به، له پښين او سيبی څخه پرته چي د برتانيي په واک کي به پاتيږي، د يوه جلا واکمن تر لاس لاندي وي. په نتيجه کي نو حکومت ستاسي سره په دې موضوع کي هيڅ ډول خبري نه سي کولای او نه د شمال لوېديځي صوبې د چارو په باره کي، چي د مخکني اميرمحمد يعقوب خان سره فيصله سوې ده، خبري درسره کولای سي. د برتانيي حکومت، د دغو ټکو په نظر کي نيولو سره، تيار دی چي تاسي پر افغانستان باندي (د هرات په شمول، چي موږ يې ملکيت تاسي ته نه سو تضمينولای، که څه هم چي که تاسي د هغه ولايت د ترلاسه کولو لپاره اقدام وکړی د برتانيي حکومت مو مخه نه نيسي) ستاسي واکمني تسليموي چي ستاسي د کورنی بل هر امير درلودلي ده. د برتانيي حکومت هيله لري چي د دغو سيمو په داخلي چارو کي هيڅ مداخله ونه کړي او نه به له تاسي څخه وغواړي چي يو انګليس استازی په خپل هيواد کي ومنی که څه هم چي، د عادي او دوستانه اړيکو درلودلو لپاره به دا ښه وي چي په کابل کي د برتانيي يو مسلمان استازی ولری.

عبدالرحمن خان هغه ته لنډ جواب ورکړ مګر د کندهار بېلېدل يې ځکه ورسره ونه منل چي هغه ښار د افغانستان يوه مهمه برخه وه. دا چي ده په دغه وخت کي دا مسله راپورته نه کړه علت يې دا وو چي دی پوهېدی چي هغه ښار به کرار کرار پخپله د ده لاسته ورسي. نو دی ولي د برتانيي له حکومت سره په هغه باب ژمنه او قرارداد وکړي؟

دی په چاريکار کي خبر سو چي د برتانيي حکومت د ده د نيتونو په باب سخت اندېښمن دی. د جولای پر شلمه د افغانستان هغو مشرانو چي هلته حاضر ول عبدالرحمن خان د خپل پاچا او امير په حيث ومانه او د هغه په نوم يې خطبه وويل. د جولای پر دوه ويشتمه په چاريکار کي رسمي دربار جوړ سو او سر لېپيل ګريفين د افغانستان د امير په حيث د ده پېژندل په دغو ټکو اعلان کړل.

« د پېښو جريان سردار عبدالرحمن خان په داسي موقف کي راوستلی دی چي هغه د هند د وايسرا له غوښتنو سره برابر دی او د عليا حضرتي ملکي حکومت خوشاله دی چي د مشهور امير دوست محمدخان لمسی سردارعبدالرحمن خان د کابل د امير په حيث وپېژني. دا د حکومت لپاره د خوښی خبره ده چي قبايلو او د هغوی مشرانو د بارکزيو د کورنی يوه مهم غړي ته چي ډېر مشهور عسکر، هوښيار او تجربه کار سړی دی، پر نورو باندي ترجيح ورکړې ده. د برتانيي د حکومت په برخه کي د ده احساسات تر ټولو دوستانه دي او تر څو چي پوري هغه خپل دغه احساسات په دغه شکل څرګندوی نو د برتانيي د حکومت ملاتړ به ورسره وي. دی به زموږ

سره خپله دغه دوستي په دې توګه وښيي چې له هغو کسانو سره ښه سلوک وکړي چې د ده د دوستانو په حيث يې زموږ خدمت کړی دی».
د اګسټ د مياشتې په سر کې رسمي موافقتنامه وليکل سوه او امير ته وسپارله سوه:
«جلالتمآب ويسرا او ګورنرجنرال په خوښی سره خبر سوي دي چې تاسي جلالتمآب، د برتانيې د بلني سره سم، د کابل پر لور حرکت کړی دی. ځکه نو د هغو دوستانه احساساتو په نظر کې نيولو سره چې تاسي جلالتمآب د برتانيې د حکومت سره د دوستی په اړه ښودلي دي د برتانيې حکومت فيصله کړې ده چې تاسي د کابل د امير په حيث وپيژني. ما ته دغه راز ، د وايسرا او د هند د ګورنرجنرال له خوا، صلاحيت راکړه سوی دی چې تاسي جلالتمآب ته اطلاع درکړم چې د برتانيې حکومت ستاسي تر واک لاندي سيمو کې د مداخلې کولو هيڅ خيال نه لري او نه غواړي چې ستاسي تر واک لاندي سيمو کې کوم انګليس استازی ولري. د هغو دوستانه اړيکو د ساتلو لپاره به چې د دوو ګاونډيو هيوادونو ترمنځ لازم دي دا ضروري وي چې د برتانيې د حکومت يو مسلمان استازی په کابل کې و اوسيږي. تاسي جلالتمآب غوښتي وه چې د خارجي قواوو په اړه د کابل د واکمن په برخه کې د برتانيې د حکومت په نيت پوه سی نو دا به ستاسي جلالتمآب د اطلاع لپاره درته ووايم چې وايسرا او ګورنرجنرال ماته واک راکړی دی چې تاسي ته اعلان کړم چې د برتانيې حکومت په افغانستان کې د هيڅ خارجي قوت مداخله نه غواړي او څرنګه چې روسيې او ايران دواړو ژمنه کړې ده چې د افغانستان په چارو کې به هيڅ ډول مداخله نه کوي نو تاسي جلالتمآب ته دې څرګنده وي چې پرته د برتانيې له حکومت څخه به د هيڅ خارجي هيواد سره اړيکي نه ساتی. او که چيري کوم ګاونډی هيواد پر افغانستان باندي حمله وکړي نو د برتانيې حکومت به د هغه په شا تمبولوکي مرسته کوي، البته په دې شرط چې تاسي جلالتمآب په خارجي اړيکو کې د برتانيې د حکومت سره سلامشوره وکړی».
ضمناً داسي رپوټونه راغلل چې د برتانيې پوځ په کندهار کې د محمدايوب خان له لاسه ماته خوړلې ده او د دې رپوټونو له امله د برتانيې پوځ ډېر ژر له کابل څخه روان سو او جنرال رابرټس، د آګسټ پر اتمه، د يوه افغان پوځ په ملتيا، د کندهار پر لور وخوځېدی . نور پوځيان د پېښور پر لور روان سول. ايوب خان د سپتمبر پرلومړۍ نېټه ماته وخوړه او د هرات خواته وتښتېدی. له دې سره د افغان او انګليس دوهمه جګړه پای ته ورسېده.
د برتانيې او افغانستان ترمنځ تړون، د يوه هيواد لپاره چې د هند له حدودو څخه بهر پروت وو، يو توهينونکی تړون وو. مګر امير هغه ځکه ومانه چې په هغه وخت کې دی له دې څخه وېرېدی چې د روسيې حکومت به له ده څخه وغواړي چې د برتانيې په مقابل کې يې ملاتړ وکړي. څرنګه چې امير عبدالرحمن خان په روسيه کې ډېر وخت تېر کړی وو نو ليدلي يې وه چې روسيه پر له پسې د افغانستان پر لور را دمخه کيږي او پر هند باندي د يرغل لپاره ځانته لاره هواروي. امير په يوازي سر او د يوه لوی قدرت له ملاتړ نه پرته د روسيې د دغه راز يوه پېشنهاد په مقابل کې مقاومت نه سو کولای. ده په حقيقت کې کولای سوای چې په ډېره اسانی سره په کابل کې د برتانيې پوځ ته ماته ورکړي مګر دی په دې پوهېدی چې که له برتانيې څخه ځان په زور خلاص کړي نو کېدلای سي چې برتانيه له هند څخه د بل زورور پوځ سره حمله وربانديي وکړي او دی به بيا مجبور وي چې د روسيې لمنې ته لاس واچوي، او د روسيې د خرس له منګولو څخه د دوهم ځل لپاره ځان ژغورل اسانه کار نه وو.

ده په روسیه کي هره دقیقه د روسیي استبداد او د تزار پالیسي مطالعه کړې وه او په دې یې ځان پوه کړی وو چې روسیه هیڅ وخت په سوله ایزه طریقه نفوذ نه کوي بلکه سیمي په حرص او وحشت لاندي کوي. دی په دې پوهېدی چې له روسیي سره هر راز ډیپلوماتیک اړیکي دی له روسیي سره داسي نیژدې کوي چې یوه ورځ به د ده پاچهي ټوټه ټوټه کړي.

امیر عبدالرحمن د دغو شرایطو له امله غاړه دغه راز یوه توهینونکي تړون ته کېښېښودله. ده به وروسته هر وخت ارمان کاوه چې ولي یې دغه تړون لاسلیک کړ مګر څرنګه چې یو ځل یې ژمنه کړې وه نو باید چې پر خپل قول درېدلی وای. ما لیدلی دی چې کله له کلکتي څخه یو لیک ورته را ورسېدی او د لیک لهجه آمرانه وه نو د خپل لاس د شا غوښي یې په غاښو ونیولي او له دې امله ډېر غمجن وو چې څرنګه یې ځان د برتانیي پر حکومت خرڅ کړ او ویل به یې« زه یو مسلمان یم او باید چې پر خپل قول ودرېږم» مګر سره له هغه چې په دایمي توګه به تر دغه راز فشارونو لاندي وو بیا به یې هم د موافقتنامي شرایط په ډېر احتیاط رعایتول. یوه ورځ د برتانیي د پارلمان یوه وکیل په لندن ټایمز کي لیکلي وه چې برتانیه په یوه هفته کي افغانستان تباه کولای سي. امیر په غوسه سو او په جواب کي یې ورته ولیکل چې تر څو پوري په افغانستان کي یو افغان ژوندی وي د دې هیواد یو اینچ خاوره به هیڅ خارجي طاقت د ځان نه کړي. ده د فارسي یوه رباعي ولوستله:

په عزت چې یمه پروت تر تیرې لاندي
زه دي مړ یم او مشهور نه یم د باندي
خو نه دا چې زه ژوندی یم او پاچا یم
تاج پر سر یم او نور را پوري خاندي

دغه سړي، له دغي روحیي سره، د سولي او دوستی تړون لاسلیک کړ. دا څرګنده خبره ده چې دا کار یې د خپلو خلکو د ښېګڼي او د خپل هیواد د خاوري د راتلونکي تمامیت د ساتلو لپاره وکړ، چې له ده سره یې تل غم ورسره وو. داسي ښکاري چې دی په دې باور وو چې د خپل هیواد استقلال ساتلای سي او ده په څه کم شل کاله سلطنت کي د هغې آزادی بنسټ کېښېښود.

ده په روسیه کي د جاسوسی سستم لیدلی وو چې د یوې خطرناکي وسلي په توګه یې د هغه هیواد عظمت او د امپیریالیزم قوت ساتلی وو. نو کله چې ده د کابل تخت ونیوی سمدستي یې د استخباراتو یو داسي پېچلی سستم جوړ کړ چې شبکه یې تقریبا هر کورته ننوتله. حتی ښځو د خپلو مېړونو او لونو د خپلو پلرونو رپوټونه ورکول. په دې توګه یې د هیواد په هره برخه کي له پېښو څخه ځان خبر کړ او هر کورته یې د خپلي اداري لمنه وغځوله. دا په حقیقت کي یو استبدادي سستم وو. په هیچا باور مه کوه او هر څوک وڅاره.

امیر عبدالرحمن خان قدرت ته تر رسېدلو ډېر ژر وروسته د خپلو خلکو د زړونو د ترلاسه کولو او پر ځان باندي د بشپړ باور پیدا کولو لپاره یو پلان جوړ کړ. د کابل او د ښار د شاوخوا په شپږ میلی کي یې له ټولو کلیو څخه خلک یوې لویي مېلمستیا ته وبلل، ډېر ښه ترتیبات نیول سوي ول. د ښار څخه دباندي په پراخه سیمه کي ډیري لویی خېمي وهل سوي وې او داسي ښکارېده لکه یوه لوی لښکر چې خېمي وهلي وي. اشپزخانه پخپله لکه یو لوی ښار داسي وو. د وریجو، اوړو، غوښو او د اشپزی د نورو اړتیاوو لویي ذخیرې پکښي وې. چایي، بوره، شیدي، تازه او وچې مېوې هر څه پرېمانه وو. موزیک چالانه وو، سندري ویل کېدلي او چې د سات تېري لپاره د یوه افغان په زړه کي هر څه ور ګرځېدل ټول شیان موجود وه او د افغانانو لپاره داسي جشن وو چې نور یې

نو تصور نه سو کولای. د سهار له لمر ختلو سره مېلمانه پيل سول او په خېمو کې خوراک او څښاک شروع سو او چې د چا هر څه زړه غوښتل هغه ورته حاضر سول. مېلمنو ته ويل سوي وه چې که کښېني او که په خېمو کې ګرځي هغه د دوی خپله خوښه. په لومړي سر کې چې د کابل ښاريان، چې د دغه راز نعمتونو او سات تېريو سره يو څه بلد وه او د کليو خلک چې دا حال يې چنداني نه وو ليدلی، يو څه خاموش ښکارېدل. خو کله چې مېلمانه وار په وار زيات سول او د خوراک او سات تېري وسايل پرېمانه سول نو په خلکو کې کرار کرار جم و جوش پيدا سو. هر چا د خوراک او څښاک فرمايش ورکاوه او حتی پر خادمانو به په غوسه سول چې ولې يې د دغه او هغه شي په راوړلو او حاضرولو کې ټنبلي کړې ده. کرار کرار د اعتراضونو آوازونه پورته سول او مېلمنو پخپله د خوراکونو او څښلو د شيانو په اخيستلو بنا وکړه. امير بايد د غرمې پر مهال حاضر سوی وای او لکه پلار چې له خپلو ماشومانو سره ډوډۍ خوري ده هم له خپلو رعيتو سره په خوراک او څښاک کې برخه اخيستې وای. خادمانو به خلکو ته زاری کولې چې يو ګړی صبر وکړی امير صاحب را رسيږي. تاسي تر هغه وخته پوري ځانونه په وچو او لندو مېوو او شربتو مصروف کړی خو چا د چا پر خبره غوږ نه نيوی او د خلکو اشتها داسي پر ښور راغلې وه چې اندازه يې نه لګېده. عسکرو چې هر څه کوښښ وکړ د خلکو مخه يې نه سوای نيولای او چې چاته هر څه په لاس ورتلل هغه يې چور کړل. په دغه وخت کې، چې ګډوډي او بې نظمي روانه وه، امير صاحب را ورسېدی او د جشن خېمې ته ورغی او په ډېره خواشيني يې دې حالت ته کتل چې خلک څرنګه يوه شېبه خپل ځانونه نه سي ټينګولای او چې هر څه يې لاسته ورځي هغه چوروي. دی پوهېدی چې د دې خلکو کنټرولول يې په وس پوره نه دي او ښېله دې چې چاته دي وګوري او يا دي ده ته څوک وګوري تر خلکو تېر سو. ده وروسته وويل چې ما ګومان کاوه په نرمۍ به د خپلو خلکو زړونه رانيسم مګر زه خواشينی سوم چې دوی په دغه توګه نه کنټروليږي. پرېږده چې زړه يې غواړي هغه وکړي او زه به هم هغه څه وکړم چې زما زړه غواړي .

امير عبدالرحمن خان تر دې وروسته مطلق استبداد ته مخه کړه او د ټولو هغو کسانو په له منځه وړلو يې بنا وکړه چې د تخت د نيولو احتمالي کانديدان ول، له دې سره يې ټول هغه کسان چې د امير شېرعلي خان فعال طرفداران ول او د ټولو هغو کسانو له منځه وړلو ته ملا وتړله چې د کابل د لنډي محاصرې په وخت کې يې له انګليسيانو سره مرسته کړې وه. بنديخانې او تورڅاهان ( سياه چاه) له خلکو داسي ډک سول چې نور يې نو ځای نه درلود. د اميرد، واجب الاجراء، امر سره توپونه وغړومبېدل. لاسونه، پښې او د انسانانو د وجود نوري برخې له يوه بل څخه بېلېدلې او د وجود غړي هري خواته الوتل. سرونه د فوټبال د لوبې د توپونو په څېر الوتل او د هغوغونډيو څنګ ته رغړېدل چې د مرګ خطرناک جارچي نيژدې ورته ولاړ وو. د خلکو ارواح د خپلو هغو قفسونو ننداره کوله او شاوخوا ورباندي ګرځېدل چې په زور ورڅخه ايستل سوي ول. ښايي دغه ارواح به له خپلو قفسونو څخه په دغه ناڅاپي خوشي کېدلو خوشاله ول. خلک حيران ول، په تېر پسې يې ارمان کاوه او خاموش ول. په ټول هيواد کې يوه خطرناکه چوپتيا حاکمه وه. داسي ښکارېدله لکه د امير عبدالرحمن روح چې هر شی څاري. دوستان چنداني د يوه بل ليدلو ته نه ورتلل. د جمعي د ورځي تبليغ منع سو. خلکو په پټه خوله خپلې راکړه ورکړي کولې. خلکو له يوه بل سره په ډيري کراري خبري کولې او وېرېدل چې هسې نه خبري يې د امير تر حساسو غوږونو ونه رسيږي. اوضاع، د وخت په تېرېدلو سره، يو څه بهتره سوه؛ مګر کله چې به امير په دربار کې وغړومبېدی نو آواز به يې د هيواد تر ټولو ليري برخو ته ورسېدی او خلک د هغه تر مرګه

په وهم او وېره کې وه. زه د هغه د مرګ په وخت کې په کابل کې وم. خلکو د امير ناروغي نه منله او فکر يې کاوه چې دا د هغه له خوا د يوه بل خطرناک عمل لپاره يوه پلمه او مقدمه ده. کله چې د هغه د مرګ خبر له يوه غوږه تر بل پورې رسېدی نو هيچا باور نه کاوه. دوی به ويل چې امير ژوندی دی او غواړي په دې توګه معلومه کړي چې موږ د هغه په باره کې څه وايو. ږغ مه لری وروڼو! ډېر ژر به واوری چې بيا يې آواز لکه تالنده وغړومبيږي. په هغه ورځ چې يې د ده مړی له باغ بالا ښخه را وايستی، سره له هغه چې د ده مرګ اعلان سوی وو، ډېر لږ خلک لارو کوڅو ته راوتلي ول. څوک سړک ته نه وتل او دلته هلته، له څو پياده خلکو پرته، چنداني څوک نه ښکارېدل. چوپه چوپتيا وه. داسي ښکارېده لکه طبيعت چې د ده ماتم کوي. د هغه جنازه په خاموشی سره تېره سوه او هغه ځای ته يې يووړه چې ده په ژوند کې د ځان لپاره ټاکلی او وصيت يې کړی وو. نوي امير، حبيب الله خان، د ماتم دربار جوړ کړ او د پلار مړی يې له خاصو حکومتي مراسمو پرته خاورو ته وسپاره. دی اوس په هغه ځای کي په مرمرين قبر کي پروت دی چې د زرګونو انسانانو د وژلو او ارواح د رخصتېدلو امرونه يې صادر کړي ول. دا په هغه وخت کي د مرګ کور وو او اوس هم د مرګ کور دی. په هغه قصر کي چې ژوندي مرګ پاچهي کوله اوس يو بې واکه مړګ پکښې پروت دی. هغه قصر اوس مقبره ده.

د کابل خلک په يقين سره په دې پوهېدل چې د امير عبدالرحمن خان د وحشت او دهشت دوره ختمه سوې ده. بلې، هغه د دهشت دوره وه مګر داسي دهشت چې د هغه هيواد او خلکو لپاره لازم وو. د بې پيره په ژبه بدمذهبه پوهيږي. يا په بل عبارت کږه خوله سوک سموي. له دې هيواد سره بله لاره انتخابېدلای نه سوای.

د هغه د پاچهی په دوره کي اکثر قبيلوي مشران او خانان يو په بل پسي ونيول سول، بنديان سول، تبعيد سول او يا ووژل سول. د ده په خپله کورنی او يا په خپله قبيله کي چې پر هر چا به بدګومانه سو هغه په همدغه سرنوشت اخته وو. په ټولنه کي له ده پرته بل سر نه وو. په ځينو برخو کي خلکو ښورښونه وکړل مګر په آهنين لاس يې وځپل.

د برتانيي حکومت کندهار د يوه جلا ولايت په توګه ساتلی او د سردار شېرعلي په نوم خپل ټاکل سوی ګورنر يا والي يې پکښې مقرر کړی وو. مګر هغه کندهار اداره کولای نه سوای. نو د برتانيي حکومت هغه برطرفه کړ او د ١٨٨١ کال د اپرېل پر يووشتمه يې خپلي قواوي له کندهاره و ايستلي او ښار يې امير عبدالرحمن خان ته تسليم کړ او هغه په خپله پاچهي کي شامل کړ. محمدايوب خان، چې د په کندهار کي يې د برتانيي سره په جنګ کي ماته خوړلي وه، هرات ته تېښتېدلی او له هغه وخته يې دغه ښار په لاس کي وو، پر کندهار باندي لښرکښی وکړه. د امير پوځ له هغه سره مقابله وکړه. دا جنګ د جولای د مياشتي پر شلمه وسو. د ايوب خان پوځونو په لومړي سر کي ماته وکړه مګر د هغه د پوځ سل تنه انتخاب کړي غښتلي عسکرپه ميدان کي پاته وه او نه يې غوښتل چې د دښمن لاسته ژوندي ولوېږي د کندهار پر پوځ باندي يې حمله وکړه او د لويو صاحب منصبانو خېمې ته يې چې چنداني ساتنه يې نه کېدله ځانونه ورسول. صاحب منصبان وتښتېدل او د امير پوځ ماته وکړه. محمدايوب خان د کندهار ښارته د فاتح په حيث ننووت.

کله چې امير ته دا خبر ورسېدی نو هغه سخت په غوسه سو او پخپله يې د لښکر قومانده پر غاړه واخيستله. د امير عبدالرحمن خان او ايوب خان لښکري، د ١٨٨١ کال د سپټمبر پر دوه ويشتمه، د کندهار د زاړه ښار په څنډو کي سره مخامخ سوې. ايوب خان ماته وخوړه او هرات ته ستون سو، مګر امير عبدالرحمن خان د وخته

لا پوهېدی چي ایوب خان به دا کار کوي او سردار عبدالقدوس خان ته يې د هرات د نيولو وظيفه ورکړې وه او پخپله يې کندهار ته حرکت کړی وو.
سردار عبدالقدوس خان هرات ونيوی. ايوب خان هرات ته روان وو چي په لاره کي د هرات د نيول کېدلو اطلاع ورته ورسېده، ځکه يې نو د مشهد لاره ونيوله.
امير عبدالرحمن خان د کندهار او هرات له نيولو سره د ټول افغانستان پاچا سو. مګر د هغه پاچهي ټولو قبايلو او د هغوی مشرانو نه وه منلې او هغه ته په دې لاره کي ډېر کارونه لا پاته وه. امير پخپله سوانح عمري کي دغه حالت ډېر ښه بيان کړی دی. دی وايي:
«لکه مخکي چي مي ويلي دي، هرپير، مُلا او د هر کلي او قبيلې مشرخېل ځان مستقل پاچا باله. او له تېرو دوو سووکالو راهيسي هيڅ پاچا د دغو پيرانو چاره نه وه کړې. د ترکستان ميران، د هزاره ګانو ميران، د غلجيو مشران ټول تر خپل امير غښتلي او قوي ول او ځرنګه چي قدرت د دوی په لاس کي وو نو پاچا په وطن کي عدالت نه سو ټينګولای. د دې خلکو ظلم او تېری تر حد وتلی وو. هغوی د خپل سات تېري لپاره د نارينه او ښځو سرونه پرې کول او پرې کړي سرونه به يې پر سره اوسپنه کښېښودل او د هغوی د غورځېدلو سيل به يې کاوه. تر دې لا ډېر بد عادتونه وه مګر زه ځکه هغه ټول دلته نه راوړم چي زما د کتاب د لوستونکي پر ذهن باندي بده اغېزه ونه کړي. هر خان، دولتي مقام، شهزاده او حتی پاچا به د قاتلانو ډلې درلودلې او زيات شمېر غله او داړه ماران به يې ساتلي ول. کله چي به دغو غلو لاري ووهلې، خلک به يې قتل کړل او مالونه به يې لوټ کړل نو هغه به د غلو او د هغوی د بادارانو تر منځ تقسيم سول. هر غله به ځانته جلا ډله درلوده او توپکونه اوتوپنچې به ورسره وې. زه به په بل فصل کي تاسي ته هغه کيسه وکړم چي د دادو او سدو په نوم دوو غلو سره مي څونه سترې کونکي جنګونه وکړل. هغوی زما پوځيانو ته څو څو ځله ماتي ورکړې. يو مي په قفس کي واچاوه او د لته بند د کوتل پر سر مي وځړاوه .
ډېرو پيرانو داسي غلط ديني تبليغات کول چي د اسلام په دين کي له سره نه وه خو دا تبليغات په ډېرو اسلامي هيوادونو کي د حکومتونو د نسکورېدلو سبب سوي دي. دوی به خلکو ته ويل چي هيڅ کار بايد ونه کړي او ژوند د نورو خلکو په شته منيو وکړي او له يوه بل سره وجنګيږي. نو دا خو ځرګنده خبره ده چي دغو خپل سرو پاچاهانو له خپلو رعيتو څخه ماليه اخيستله. نو زما لومړی کار دا وو چي د دغو بې شمېره داړه مارانو، غلو، دروغجنو پيغمبرانو او بې ارزښته او چټي پاچاهانو چاره مي وکړه. زه بايد اعتراف وکړم چي دا اسانه کار نه وو او پنځه لس کاله وروسته ايله دوی زما پاچهي ومنله او يا له وطنه وتښتېدل، يا مي تبعيد کړل او يا مي بل جهان ته واستول».
د امير د دغي پاليسی په مقابل کي، چي هر دښمن يې ځپی، ډېر ښورښونه وسول. لومړنی سړی چي د ده په مقابل کي يې بغاوت وکړ هغه سيدمحمودکنړی وو، چي د کابل د تخت په مقابل کي يې ښورښ وکړ؛ مګر مات سو او هند ته وتښتېدی.
د شغنان او روشان مير آصف علی روسانو ته بلنه ورکړې وه چي له ده سره د خپلواکی په کار کي مرسته وکړي. امير ته رپوټ ورسېدی او هغه هم لښکر ور ولېږی. هغه يې ونيو او کابل ته يې بندي راووست.
د جلال اباد په جنوب ختيځ کي، د شينوارو قبايلو د جلال آباد او پېښور تر منځ د مسافرو لوټلو ته دوام ورکړ. امير پخپله جلال آباد ته ولاړ، د هغوی مشرانو ته يې پيغامونه ولېږل او هغوی يې خپلو دغو بدو عادتونو ته،

چي د اسلام په دين کي منع او حرام دي، متوجه کړل. مګر دوی غوږ ونه نيوی. امير پوځ ور واستاوه. څلور جنګونه يي ورسره وکړل او ياغيانو په ټولو جنګونو کي ماته وکړه. امير د هغوی د مړو د کله منار د جوړولو امر وکړ څو ژونديو ته عبرت سي او پوه سي چي د جنايت سزا څه ده.

د منګلو او زرمت قبايلو بښورښ وکړ. له کابل څخه يي يوه قوه ور ولېږله. ټول يي مات کړل. له هغه څخه وروسته تسليم سول او بيا يي بښورښ نه دی کړی.

نوربيا